# وزارت مخابرات و تکنالوجی معلوماتی
## ریاست دفتر مقام
## مدیریت عمومی اطلاعات عامه

==========================================================

**مطبوعاتی اعلامیه**

**۱۳۹۱ کال د زمری ۱۸**

**چهار شنبه – ۱۲:۰۰ بجی**

دمخابراتي خدمتودتنظیم قانون پربنسټ دمخابراتي خدمتونودتنظیم اداره یوازینۍ مسئوله مرجع ده چې دهیواد په کچه مخابراتي سکتورپورې اړوند چارو تنظیم اوڅارنه په غاړه لري چي دمخابراتواومعلوماتی تکنالوژی دوزارت په چوکاټ کې په خپلواکه ، موخه لرونکې ، روښانه اوله تبعیض پرته فعالیت کوي.

- د۱۳۹۱ کال د چنګاښ دمیاشتی په (۱۳،۱۴او۳۱) نیټه د اترا اداري ته خبر راورسیده چې یوشمیر کسانو دکابل ښار په دری مختلفو سیمو کې په ناقانونتوګه مخابراتی توکی نصب کړی اوپرته له قانونی جواز څخه تری ګټه اخلی دنوموړی خبر په را رسیدو سم له لاسه د مخابراتی خدمتو دتنظیم اداری دنظارت آمریت د لویی ښارنوالی ، پولیسو او دملی امنیت د استازو په مرسته د اړوند ناحیو د ابتدایی محکمی دحکم اخیستلو څخه وروسته دشبکو دفعالیت ځای ته لاړل.

دعملیاتو په جریان کې ګمارل شوی پلاوی دلومړی سیمی (دویمی حوزی اړوند د حاجی ګل زمان بلندمنزل) څخه (۳) پایی سیم باکسونه سره د (۹) قلمه توکیو راټول کړل. د دوهمی سیمی (دریمی حوزی اړوند دانفوسس کورس) څخه (۱) پایه سیم باکس دستګاه ، (۳۷۳) عدد سیم کارتونو سره د (۱۰) قلمه اړوند توکیو راټول کړل او د دریمی سیمی (پولسمی حوزی پروژه جدید) څخه (۱) پایه سیم باکس ، (۵۵) عدد سیم کارتونه سره د(۱۷) قلمه اړوند توکی راټول او ضبط کړل.

همدارنګه دکندهار ولایت دمخابراتو ریاست دقانون ساتنی ادارو په مرسته دچنګاښ په (۱۸) نیټه (۱) پایه سیم باکس ، (۱۱) قلمه اړوند توکی سره (۸۸۵) عدد سیم کارتونه را ټول او ضبط کړل.

دنورو زیاتو څیړنو لپاره په سیم باکس پوری اړوند ټول توکې د اترا اداری ته راوړل شوی او دموضوع په هکله (۶) شکمن کسان دتحقیقاتو لپاره اړوند څارنوالی ته تسلیم شویدی.

دسیم باکسونواستعمال اوپه نړیوالو مخابرو کې تری ګټه اخیستل دافغانستان دولت او مخابراتی شرکتونو ته اقتصادی تاوان اړوی ، دمخابراتی خدمتونو دکیفیت د کمښت سبب ګرځی او همدارنګه دهیواد دامنیتی حالت د ګډ وډ کیدو لامل هم کیږی دسیم باکس استعمالونکو ددې عمل په کول سره دمخابراتي خدمتونو دتنظیم دقانون دحکمونو مطابق لاندی موارد نقص کړی دی:

1. له قانوني جوازپرته يې په مخابراتي خدمتونه لاس پوری کړی .
2. داترا اداري له اجازې پرته يې مخابراتي وسایل اوتجهيزات هيوادته راوړي او ګټه يي تری اخيستی.
3. دفریکونسیو له تخصیصاتو چې یوه محدوده ملی سرچینه او سرمایه ده په غیر قانوني توګه له جوازپرته یې تری ګټه اخيستې ده.
4. برسیره پر دی چې دولت اومخابراتي شرکتونوته يي هره ورځ په زرګونه امریکایي ډالره اقتصادي زيان رسولی د دې امکان هم شته چې دهيواد دامنیت ضد فعالیتونه یی هم ترسره کړی وی.

دمخابراتي خدمتونودتنظیم دقانون داحکاموپربنسټ هرکله چې یو کس له قانوني جواز پرته مخابراتي خدمتوپه وړاندې کړی نوبرسیره پردی چی ټول وسایل یي ضبط او مصادره کیږی په نغدی مجازاتو او د مالی خساری د ثبوت په صورت کی به جبران دخسارې کوی او دحبس په مجازاتو به هم محکم کیږی.

دمخابراتي خدمتونو دتنظیم اداره دامنیتي ادارو له مرستې اوهمکاری څخه مننه کوي.هیله لری ترڅو په راتلونکۍ کې هېڅ یو کس په غیرقانوني توګه د مخابراتي وسایلونه داستفادې په ترڅ کي هیواد ته مالی او امنیتی تاوان ونه رسوی.


Address:
Mohammad Jan Khan Watt
Kabul – Afghanistan
0202104129
Web Site:

پته:
محمد جان خان واټ
کابل- افغانستان
دتیلفون شمیره 0202104129
ویب پاڼه: www.moc.gov.af